# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |



د شناخت په اړه څو خبرې
صمد بهرنګي
ژباړه: څرك
خپرندويه : سيند خپروندويه
وب لاګ:ketabtoon.blogspot.com

# د شناخت په اړه يو څو خبرې

**(تاريخ او ادبيات)**
**صمد بهرنګي**
**ژباړه: څرك**

**لړليک :**

د نړۍ پيژندنه
د پخواني علومو او نوې پوهې پر پوله
اسکولاستيک، د تحجر او منځنۍ پيړۍ فلسفه
ليوناردو داوينچي (۱۴۵۲-۱۵۱۹)
پيې‌ر روسو
ويليام هاروې
کليسا، د نوې ستور پيژندنې په وړاندې خنډ
جوردانو برانو
ځمکه او آسمان د يو موټي خرافاتو په منګولو کې
تې‌کو براهه
کپلر
ګاليله
د شعور، فکر او ژبې په اړه څو لنډې خبرې

# د شناخت په اړه یو څو خبرې

**د نړۍ پیژندنه**

د پوهې څواک بې له شکه پیاوړی دی. انسان چې په پوهې مسلح وي، ماته نخوري.
آیا پوهه پخپله لاس ته راتلی شي؟ کیدی شي ځینې کسان ګوت نیونه وکړي چې دا هم شوه پوښتنه. که چیرې موږ پوه نه شو چې په نړۍ کې څه تیریږي، نو په نړۍ کې کار او ژوند نشو کولی. که چیرې علم ونشي کړای یو شئ حصول کړي، نه یوازې دا چې د انساني نبوغ حیرانونکې آثار لکه سپوږمکی او سپوږمی مزلې توغندې او نور به د لاسرسی وړ نه وي، بلکې آن ترټولو کوچنې او ترټولو ساده کارونه به هم زموږ په وس کې نه وي.
خو بیا هم په دنیا کې ځینې کسان شته چې وایي انسان نشي کولی د نړۍ په هکله کره او سمه عقیده ولري؛ په بلې وینا، موږ نشو کولی نړۍ وپیژنو. بده به نه وي چې پوه شو د دې اند جرړې له کوم ځایه خړوبیږي.
پخوانیو به ویل چې پوهه رڼا ده خو ټول کسان رڼا نه خوښوي. ځکه چې د انساني عقل د رڼا د وړانګو د ځرک په نتیجه کې د نړۍ مشاهده پدې مانا ده چې زیات شیان ووینو، د هغو په هکله مو پوهه ډیره شي او د ډیرو کارونو د سر ته رسولو لپاره چمتو شو. همدا ټکی، د تورتم د دوام غوښتونکې په ډار کې اچوي.
ځکه کله چې انسان ځان له ټولو ټولنیزو او سیاسي قیودو او نور هغه بندونو ځخه آزاد کړي چې هغه بردګي ته کاږي، او د خپل ځان څښتن شي، تر هر څه د مخه به تفوق طلبي او د بردې په څیر ژوندکول له منځه ویسي.
دقیقاً همدلته دی چې ((کلیسا)) د پوهې د ونې او انسان تر منځ چې لاس یې د پوهې لور ته غزولی دی، ودریږي. ((کلیسا)) په زغرده وایي چې د ریښتني پوهې آن درشل ته رسیدل هم زموږ په شان عادي او ګناهکارو خلکو ته شونی ندی. کلیسا په وار وار موعظه کړې چې پوهه ستر رمز دی او کلی یې له عادي خلکو سره نشته.
نو ((عادي او ګناهکار خلک)) دې باید څه وکړي؟ کلیسا وایي: خپل عقل دې خوار او سپک وګڼي، یوازې دې باور ولري او دعا دې کوي. دا د هغوی ځواب دی: مړ دې وي اند او تعقل! مرګ پر پوهې او رڼا! کلیسایي او اسکولاستیک طرز تفکر له دې پرته بله معنی نلري.
هغوی وایي د دنیا ریښتونی شناخت شونی ندی او پداسې کارونو کې دخالت، ستره ګناه ده. د دې خبرو په بیان کې یو شمیر ایده الیست فیلسوفان د کلیسا ملاتړي دي. ایده الیستان پدې عقیده دي چې نړۍ د پیژندلو وړ نده. دې فیلسوفانو ته ((اګنوستیک)) (لاادري- نه پوهیږم) وایي. اګنوستیک یوناني کلمه ده چې دوه برخې لري: ((ا)) یعني ((هیڅ)) او ((ګنوسیس)) یعني پوهه. یو اګنوستیک عقیده لري چې: زه نه پوهیږم چې یو خارجي واقعیت ریښتیا هم په دنیا کې موجود دی یا یوازې دا چې زما حواس یې منعکس کوي یا په تصور کې یې راولي. زه وایم چې د دې امر د پیژندو لاره نشته.
هیوم او کانت د اګنوستیک تفکر وتلي استازي ول. کانت معتقد و چې ((انسان د هستي په معرفت لاسبرى نشي موندلی او باید د حادثاتو او پیښو په هکله یوازې په بحث بسیا وکړي.))١ هغه به ویل چې د شیانو واقعیت زموږ نه داسې پټ دی لکه چې د یو سرتړلي صدف په منځ کې چې وي. نو سر مو د هغوی په دننه ماهیت نشي خلاصیدی او یوازې کولی شو د هغوی ظاهري صورت ځرګند کړو.
د بیلګې په توګه انسان د دې وس نلري چې پوه شي لمر او نور ستوري له کومو موادو ځخه جوړ شوي او د هغوی د رڼا او انرژي سرچینه څه شی دی. خو موږ پوهیږو چې علم د دې ادعا ناسموالی ثابت کړی دی.
(د لمر جوړښت، په فارسي ژباړل شوي کتاب ته رجوع وشي)
اګنوستیکان وایي چې موږ یوازې د خپلو حسي غړیو (سترګو، غوږونو او ...) له لارې اشیاؤ سره تماس حاصلو او زموږ حسي غړي موږ غولوي او تیر باسي مو.
مثلاً که یو پنسل په اوبو کې دننه کړو، هغه به مات وګورو پداسې حال کې چې واقعیت داسې یو څه نه دی. نو موږ نشو کولی پر هغه څه باور وکړو او واقعیت یې وګڼو چې حسي غړي یې راته وایي.
آیا ریښتیا همداسې ده؟
انسان چې د اګنوستیکانو خبرو ته غوږ ونیسي کیدی شي ځان سره ووایي چې انسان یوازې باید عاجزه کښیني او ګردچاپیر ته ځیر شي؛ خو انسان یوازې د طبیعت ننداره چې ندی. انسان نوښتګر او فعال موجود دی. د خپل کار او هاند او عملي فعالیتونو سره دی چې د خپلو حسي غړیو د موندنو په قطعیت او واقعیت یې ایمان راوړی دی او کولی شي د اشیاؤ جوهر او منځ ته نفوذ وکړي او د مطالعې او ځیرنې سره د طبیعي پدیدو تل ته ورسیږي. په پورتنۍ بیلګه کې کافي دی چې پنسل له اوبو راوباسو او باور وکړو چې مات ندی.

ځرنګه چي ځرګنده شوه دا پخپله ژوند او عمل دی چي انسان باید تصمیم ونیسي چي آیا کولی شي نړۍ وپیژني او د هغې په منځپانګې سر خلاص شي، که نه. د ګټورو کارونو او فعالیتونو له لارې دی چي انسان د خپل چاپیریزي دنیا جوهر ته لاره مومي او هغه توضیح کوي.
نو د دنیا او د هغه د پدیدو پیژندنه شوني ده او له پرله پسي لټون او تجربې او مشاهدې پرته بله لاره نشته. په بل عبارت، هغه پوهه چي انسان یې د خپلو حسي غړیو د پر له پسې څېړنو له لارې حاصلوي، واقعیت دی او پرې باور کولی شي.
اوس دا پوښتنه راولاړیږي چي د نړۍ، طبیعت او ټولنې پیژندنه به د انسان د کار کومه غوټه پرانیزي؟ او څه اړتیا یې ده چي د هغوی په قوانینو پوه شو؟

*

وایم چي، طبیعت، ړوند او وحشي دی. منظور مې دا دی چي هر څه او هر ځوک ورته یو شان دي. د هیڅا لحاظ او د هیڅ شي خاطر نکوي. مثلاً زلزله یا اورشیندونکي غرونه، بدای او بیوزلي، راستکار او بدکار او بادینه او بې دین یو شان وژني. طبیعي پدیدې په دود او دستور او اخلاقیاتو او شرع او عرف او پوهني او روزني نه پوهیږي. طبیعت تل وحشي دی. آتشفشان، سیل او بریښنا او باد او باران نن په همغه اندازه وحشي او ویجاړونکي دي څومره چي د تاریخ دمخه پیړ کي ول. د طبیعت وسله هغه وخت شنډیږي چي وپیژندل شي.
نباید و انګیرو چي طبیعت هرج و مرج غوښتونکی دی او طبیعي پدیدې د هیڅ نظم او قانون تابع ندي او بنسټ یې پر تصادف اینښودل شوی. تر ټولو کوچنی طبیعي پدیده (او همدا شان ټولنیزه پدیده) د علت او قانون تابع او د معین او تغییر نه منونکي نظام لاندې ده. دا د اوبو قانون او خاصیت دی چي د معینو شرایطو لاندې د تودوخې سل درجو کي وخوټکیږي او په صفر درجه کي کنګل شي. له هغې ورځې چي په پخوا زمانو کي شړق بارانونه ووریدل او د ځمکي بې انسانه ژورې یې ډکې کړې تر نن پورې چي د باران څاڅکي د آسمانځکو ودانیو او د انسان د لاس پر نورو زرګونو حیرانونکي پنځونو وریږي، د اوبو د بخار تراکم تل د ځمکي د سوړ جو په ارتفاعاتو کي باران تولید کړی دی. دا یو بې استثنا قانون دی.
د یوې ورې چیني له خوټکیدو نه نیولې د رادیواکتیو موادو تر تجزیې او فعل او انفعالاتو او پیچلي آلی ترکیباتو او د حیه اجسامو تکامل او د سترو سیارو د جاذبې ځواك انرژي او د ژویو د بدن حیرانونکیو کړو وړو پورې، ټولې طبیعي پدیدې جبراً د خپل بې ګذشت او ځانګړي قانون تابع دي. له کیمیا او فزیک نه نیولې تر ژوندپوهنی او نجوم او ټولنیزې پوهې او د کوسموګني (د ستور پیژندنې هغه رشته ده چي توجه یې د سماوي اجرامو او لمریزو منظومو بدلون او د ستورو د جوړونکي مادې د حرکت اړوندو مسئلو باندې ده)۲ په شان نوې پوهې پورې د علم ټولې ګڼې رشتې همدا ټکی تاییدوي.
البته طبیعي قوانین له بشر نه خپلواک او د هغه له ارادې نه پرته حکم چلوي. دلته شوني ده چي دې ناسمې پایلې ته ورسیږو چي: نو انسان تل د طبیعت د قانون اسیر او مجبور دی. خو بې له ځنډه باید زیاته کړو چي انسان تر هغه وخته اسیر او مجبور دی چي د طبیعت قوانین یې نه وي پیژندلي او د هغوی د عمل په قلمرو یې سر خلاص شوی نه وي.
یوه بیلګه راوړم: لومړني انسانان سخت ناپوه ول. ویلی شو چي هیڅ یو یې د طبیعت قوانین نه وو پیژندلي. نوځکه تل په کړاو اخته ول. یو ناخاپه به یخني (البته د هغوی په ګمان ناخاپي) راتله او ژامې به یخنی ګړبولې او په سرې هوا کي به لړزیدل. ناخاپي به هوا توده شوه او جل به ووهل. او ډیرې نورې ناخاپي بلاګاني (!) به پرې له آسمان یا ځمکي راتللې او یوه شیبه به یې انسانان په کراره نه پریښودل. وروسته یې پام شو چي یخني او ګرمي د کال په ټاکلو مهالونو کي په تناوب راځي او هیڅ ناخاپي هم ندي او ځانګړی قانون لري. د اوړي او ژمي د قانون په پیژندلو سره انسان وتوانیدو په وخت ځانته سرپناه او پوشاک او مناسب خوراک چمتو کړي او پدې ترتیب د یخنۍ او ګرمۍ هغه ناخاپي بلا ور ته یو عادي او بې ضرره شئی شو.
بله بیلګه:د ځمکي جاذبه ځواک جبراً هرڅه د ځمکي لورته راکاږي: انسانان د دې قانون او د هغه د عمل د ډګر په پیژندنې او د هغې د عکس په لور د ځواک په ایجادولو سره، جاذبه ځواک شنډوي او الوزي.
د بریښنا د رڼا ایجاد او د اختراعاتو ګڼ ډولونه او د کرهنیزو پیداوارو په ډیروالي او لاډیر تولید کي حیرانونکي پرمختګونه ټول د طبیعت د ړندو قوانینو په پیژندلو او د هغوی په کارولو کې ریښه لري.
هګل، د المان وتلي فیلسوف به ویل چي ((جبر)) تر هغې پورې ړوند دی چي مفهوم شوی نه وي. کولی شو پر دې وینا دا هم ورزیاته کړو چي د انسان رښتونی ((اختیار)) او ((ازادي)) پدې کي نغښتي ده چي پر طبیعت او ټولنې واکمن قوانین وپیژني.
پر طبیعت لاسبری او تسلط د هغه د پیژندلو له لارې شونی دی. د طبیعت او ټولنې د قوانینو پیژندنه بشر سره مرسته کوي چي هغه په خپل عملي فعالیتونو کي وکاروي او پر هغوی برلاسي او مسلط شي.

کله چې یو قانون په آګاهانه توګه وکارورو او په هکله يې پوه شو چې څه شی دی او ناپیژندلی او مرموز اړخ نلري، پر هغه غلبه حاصلوو او پدې ترتیب قضا او قدر تدریجاً بې اعتباره کوو.
په هره اندازه چې انسان د هغه مسلطو قوانینو په اړه چې دې د ژوند او طبیعي او ټولنیزو بدلونونو په لویه لاره کې پرمخ وړي، لږ پوهه ولري په هماغه اندازه هم د دې ناپیژندلو او ړندو قوانینو په وړاندې، عاجز او ((مجبور)) او اسیر وي. د دې مقرراتو په پوهیدو، نه د هغوی د رد او انکار سره دی چې انسان ریښتونی ازادۍ ته رسیږي.
دا قوانین کولی شو په دوو ځانګو وویشو: طبیعي او ټولنیز قوانین. دلته د دې مجال نشته چې د دې دواړو ځانګو په هکله مفصلې خبرې وکړو. یوازې دا اشاره کوو چې ټولنیز قوانین، پخپله، د انسانانو د عملي فعالیتونو زیږنده دي، خو طبیعي قوانین د انسانانو پیدایښت نه وړاندې هم موجود ول. د دې ترڅنګ د دې دوه ډولو قوانینو ترمنځ د نژدې اړیکې له شتون نه هم انکار نشو کولی.
باید په دې پوه شو چې طبیعي قوانین له پیژندل کیدو مخکې او وروسته یو شان موجود دي او یوشان عمل کوي، منتها له پیژندل کیدو وروسته د انسان په خدمت کې راځي او عمل يې د انسان په ګټه تمامیږي. مثلاً وړاندې لدې چې نیوټن د کښښ (جاذبې) قانون کشف کړي هغه وخت هم اسماني اجرامو د جذب خاصیت درلود، خو انسان پرهغي پوه نه و له دې امله يې ډیر زیانونه لیدل او اوس چې هغه يې پیژندلي، فریمانه ګټې ترې وړي چې یادول يې لازم ندی.
دا به سمه وي که ووایو چې علم له کوم نوي او ناموجود شئي څخه خبرې نه کوي. زموږ نه مخکې شیان وو او زمونږه پوهه په هغو کې ریښه لري. موږ د علم په واسطه هغه او دهغوی اړیکې مومو، کشف کوو او پخپل خدمت کې يې راوړو. حتا کولی شو د دې هم مخکې لاړ شو او ووایو: په نړۍ کې اختراع امکان نلري. مثلاً، مګر مخکې د ادیسن نه د الکتریسته ځواک او پدې ځواک کې د خاصو شرایطو لاندې د رڼا د تولید خاصیت وجود نه درلود؟

*

تراوسه د طبیعت د قوانینو کوچنۍ برخه پیژندل شوی ده. علم، هره ورځ د مضاعفي چټکتیا او نه ستومانه کیدونکي هلې ځلې سره د نورو قوانینو په لټه کې دی. هرڅومره چې انسان لاډیر قوانین کشف او هغه په کار واچوي، په همغه اندازه ژوند يې هوسا، سوکاله او خوندي او بې ویرې او اندیښنې وي. د انسان د ډول د بقاء او برترۍ رمز د هغه په همدې اګاهانه چلند کې نغښتی دی.
البته دلته مو منظور هغه نارامتیا او ناامني او ویره او اندیښنه نده چې ټولنیزو قوانینو پورې اړه لري، لکه د جګړې او انسان وژنې او بم او جاسوسي او زورواکۍ او ښکیلاک او دیوالي کیدنې او ولږې او بیکارۍ او داسې نورو څخه ویره او اندیښنه درلودل. دلته د اندیښنې او ناامنۍ نه منظور هغه اندیښنه او ناامني ده چې د طبیعت د ځواکونو نه پیدا کیږي.
البته پر ټولنیزو قوانینو د پوهیدنې له لارې هم کولی شو داسې ناامنیو او اندیښنو ته د پای ټکی کیږدو چې دلته يې د بحث ځای ندی.
د ځمکې د جو د بهر او پر نورو اسماني اجرامو د واکمنو قوانینو د پیژندو له لارې او د اړین چمتووالي په برابرولو سره کولای شوو د ځمکې له حده واوړو او پر لیرې پرتو ستورو ګام کیږدو. هیڅ لیرې نده چې هلته د ځمکې د تمدن نه سل چنده ځلانده تمدنونه ومومو. هیڅ لیرې نده چې د اسمان په لیرې پرتو کې داسې یوه کُره وموندل شي چې مثلاً د غنمو د کرلو ښه شرایط ولري. پداسې حالت کې داسې ستورې چې یو وخت د ((بدې طالع او نحوست او بدمرغی)) منشاء ګڼل کیدله، د انسانانو د ژوند او هوساینې سرچینه وګرځي.
بده به نه وي چې دې مسالې ته هم اشاره وشي چې انسانان د قوانینو او د هغوی د عمل د قلمرو په پیژندلو سره په وړاند وینې لاس پورې کوي. مثلاً، نن نو هر نیازبین پوهیږي چې اوبه په اور تودیږي او خوټیږي.
دا پخپله کولی شي د بلې مقالې موضوع شي.

*

وروستۍ خبره دا چې:
د هر عمل موخه د هغه علم پر قلمرو د واکمنو قوانینو پیژندل او وروسته په عملي ژوند کې د هغه قوانینو کارول دي. البته دا تعریف د طبیعي علومو په څیر، ټولنیز علوم هم رانغاړي.
او لا وروستۍ خبره دا چې:
د لاښه او لاخوشاله ژوندون لپاره د طبیعي او ټولنیزو قوانینو پیژندل سل په سلو کې اړین دي.

## د پخواني علومو او نوې پوهې پر پوله

اروپايي پوهه د کليسايي او منځنۍ پيړۍ د ((اسکولاستيک)) له منګولو نه څرنګه وژغوريده؟ په اروپا کې د پخوانيو علومو او نوې پوهې ترمنځ د جدال کيسه ډيره په زړه پورې ده. په ګڼو رشتو کې د علم د پرمختګ سره، د کليسا اصحاب او متحجران به په ويره ولويدل او د سپيڅلي کتاب د پوښ او د ((اسکولاستيک)) بې بويه او بې خاصيته فلسفي شاته د پناه وړلو سره به د نوې پوهې په وړاندې خنډ ګرځيدل. خو نوې پوهه د پياوړي او لوي سيل په شان د متانت سره مخ په وړاندې چليده او پرته له حقيقت نه يې بله پوله او بريد نه پيژنده: هغه حقيقت چې په ازمايښتځايونو او د نجومي دوربينونو شاته پرې رسيدلي وو، او دې حقيقت د زاړه پالو او جاه طلبانو د خرافاتي عقايدو بنسټ له بيخه لړزوه. حقيقت قاطع او فضولي و. د ځمکې کُره يې له مرکزيت نه راويستله. ستورې يې کروي او متحرک ګڼل. د يو لمر پرځای يې په فضا کې په زرګونه لمرونه ښودل. افلاطون او هغه نور فيلسوفان يې خطاکار ګڼل چې په پيړيو يې د نړۍ پر افکار او اعمالو فرمان چلولی و او د لسګونو فيلسوفانو غږ يې ځکه له غوږونو ليرې ساتلی و، چې دوی بل ډول فکر درلود.

دې مقاله کې مو لټه دا ده چې په اروپا کې د پخواني علومو زوال او د نوې پوهې غوړيدل په ګوته کړو. د دې کار لپاره بايد د منځنيو پيړيو فلسفي ((اسکولاستيک)) نه پيل وکړو تر څو د ((پخواني علماو)) د طرز تفکر زمينه ښکاره کړو.

## اسکولاستيک، د تحجر او منځنۍ پيړۍ فلسفه

له هغه ځايه چې منځنۍ پيړۍ کې علمي او حکمتي بحث تقريباً يوسره هغه څه ته چې د کليسا او صومعې ګانو په مدرسو کې کيدل، منحصر و... او مدرسې ته يې په لاتين ژبه کې اسکولا ويل، نو لدې امله چې د هغې دورې ټول علم او حکمت يې اسکولا ته منتسب کول، نو اسکولاستيک يې بلل.۳

په يوه جمله کې ويلی شو چې د اسکولاستيک فلسفي کار دا و چې علم له دين سره همغاړې کړي او د سپيڅلي کتاب په تفسير او تشريح بوخت شي او وښيي هر څه چې په سپيڅلي کتاب کې راغلي، سوچه حقيقت دی او بل ډول فکر نشو کولای چې په نتيجه کې تعبد د مشاهدې او تعقل ځای ونيو. د عجيبو او غريبو مجادلو او تفسيرونو بازار تود شو. ازادی له پوهانو نه سلب شوه. د قوم متفکرانو هرڅه پريښودل او د داسې موضوع ګانو په اړه دوه لاسې په خيال اوبدنې او مجادلو کې ونښتل لکه: د هبوط شيبه کې د حضرت ادم ونه او قامت څومره و! د ادم له خلقت نه وړاندې پرښتې چيرته ديره وې؟ او ...

د داسې طرز فکر سره، عجيبه به نه وې که وويل شي چې د نوې پوهې استازو د پخوانيو علومو د اصحابو له لاسه ښه ورځ ندرلوده. تر هغه ځايه چې ژوندي ژوندي به د اور لمبو کې سوځول کيدل.

له ديارلسمې پيړۍ نه راپديخوا چې د اروپاييانو فکري غورځنګ پيل شو، هغه کس به چې په ازمايښتځايو کې د تجربې او مشاهدې په مرسته مسلمو حقايقو ته رسيده، او دا حقايق به د ارسطو او افلاطون او سپيڅلي کتاب خلاف راوتل، په همغه شيبه به يې ورځ توره او د کفر او بې دينۍ داغ به يې په تندي لګيده. د ډکو ډيرۍ او د اور لمبو به د هغه عهد د پوهې غږ وژو. چا حق ندرلود نوې خبره وکړي. بايد د پخوانيو کسانو په شان فکر وشي. مشاهدې او تجربې علم ته لار ندرلوده. ازمايښتځای د کفر کانون ګڼل کيده.

د ازمايښت نلکې د بې دينۍ او فساد آلې ګڼل کيدلې. که څوک وغواړې غاټول وپيژني، پوهيږو چې بې له ځنډه بايد باغونو او ګلځونو ته ولاړ شي. خو په هغه عهد کې داسې نه و. بايد چې د ارسطو نظر له کتاب نه راويستل شوی وې او د کار ملاک ګرځول شوی وی. پوهه به يې په کتابونو کې لټوله. پوهانو طبيعت ته لاره ندرلوده.

کليسا، د خپل قدرت د ساتلو لپاره، د اسکولاستيک تفکر په رواجولو بوخته وه، ځکه چې پوهيده چې د ربښتوني علم د پرمختګ سره، خلک به د کليسا دستورونو ته کوم ارزښت ورنکړي. لکه د قطب ښود (قطب نما) د اختراع نه وروسته بيړۍ چلونکو پرته له ويرې او واهمې او پرته لدې چې د صليب نښه پر سينې وکاږي، د سمندر له غاړې نه ليرې شول او لاره يې هم ورکه نکړه.

د اسکولاستيک طرز تفکر نتيجه دا شوه چې ((علمي څيرنه د دې پر ځای چې پر مشاهداتو او تجربياتو او په چارو کې د تعقل او په حقايقو کې پر مطالعې ودريدلې وې، د ټولو بنسټ، پخوانيو ويناوو جوړو. نوي افکار يې نه ظاهرول او د تازه اصولو او حقايقو لټون يې نه کوه. يوازې د تيرو پوهانو تعليمات يې مسلم ګڼل او ماخذ يې ترينه اخيسته او تل به يې د بحث موضوع ګرځول.))

خو د دې ټولو سره، هيڅ شئ د نوې پوهې د څپاند سيل د خوځښت مانع ونه ګرځيد. اروپاييان د ګڼو لاملونو له کبله له نورو فکري ډولونو سره اشنا شول او د پخوانيو علومو د سستو کړيو زنځيرونو په شلولو يې پيل وکړ او د پخوانيو علومو او نوې پوهې ترمنځ سخته جګړه ونښتله. په هغه دوره کې چې پوهنتونونه او علمي او فلسفي ټولنې د کليسا د دستور او فشار لاندې يوازې د سپيڅلي کتاب او د ارسطو د ليکنو او ويناوو په

حاشیه لیکني او تفسیر بوخت وو، د اور په لمبو کې د نوي پوهې سوځیدلي مینانو  به په مخالفو رشتو کې سر د ایرو راپورته کوه او بې دمې  به یې پیکار کوه ترڅو بریالي شول، او پدې هیله وو چې لابریالي شي.
څرنګه چې مو وویل د اسکولاستیک فلسفي موخه، د فکري جمود او د علم او دین ترمنځ د سازګاري رامنځ ته کول وو. کلیسا د نوښت نه داسې په تېښته کې وه او داسې ډارنه  وه چې حد یې ندرلود. څنګه چې د «لابار» په نوم یو نجیب زاده تورن کوي چې د مذهبي ډلو په وړاندې یې متداول درناوی او **تعظیم** ندې پرځای کړی او د دې ترڅنګ د منع شوي کتابونو د قرائت نه یې هم ډډه نده کړې. البته د دې ممنوعه کتابونو په لړ کې د فلسفي لغتونو کتاب او معمولي قاموس هم راتله؛ د دې ځوان ژبه پرې او وروسته پخپله سوځول کیږي.۴
لدې کبله هغه پوهانو ته باید آفرین ووایو چې د کلیسا د دومره جابرانه سلطې سره، بیا یې هم پښې له زړو او پخوانیو عقایدو څخه هاخوا کینودې او نوي پوهه یې مخ په وړاندې ویوړه.
ستر متفکر **پییر روسو** لیکي: د ارسطو ستره ونه او قامت د انسان او طبیعت ترمنځ له پخوا نه لاډېره فاصله جوړه کړې وه.
دا د مبالغې خبره نده. خلکو داسې ګمان کوه چې هغه د طبیعت ټول اسرار کشف او پخپلو کتابونو کې یې راغونډ کړي دي. د دې حال په پام کې نیولو سره باید حدس ووهو چې د اروپا د طب علم څه حال درلود. لنډه دا چې طب د حریصو جادوګرانو، دعا لیکونکو او کشیشانو لاس ته لویدلی و.
همدې مهال کې اسلامي تمدن خپل ځلاند دوران  له سره تیروه. د علم په ټولو رشتو لکه ریاضي، فیزیک، طب او ... کې مسلمانان مخکښه وو، ځکه چې د اند تازه سرچینې ته، چې په هغه وخت کې په ځانګړي توګه ډیر زیات تازه ښکاره کیده،  لاس موندلی و. د اسلامي هیوادونو پوهانو په طب کې داسې څیړنې درلودې چې کاملاً تازه وې.
**رازي** او **ابن سینا** د ډیرو ناروغیو په هکله فریمانه کنجکاوي او څنډلتیني او څیړنې وکړې او ځلانده نتیجې یې ترې واخیستې. همدا دلیل و چې مسلمانو طبیبانو په صلیبي جګړو کې پر اروپایي طبیبانو ملنډې وهلې ځکه چې د هغوی علم یې ډیر لومړنی ګڼه.
خو د دولسمې پیړۍ نه وروسته په اروپا کې د نوي پوهې د ځلاند دوران سره هممهاله، اسلامي تمدن په تورتم کې ډوب شو. لکه څنګه چې انسان پیژندنه له منځه ولاړه او پدې خاطر چې د اشخاصو ناروغي وقایه کړي، ورغوې کتنې ته یې مخه کړه. موهومات او خرافات یې په طب کې رادننه کړل او  هغه یې د بې مانا فرمولونو او طلمسونو په بڼه کې وړاندې کړل.
څرنګه اروپایي طب د جادوګري او خرافي نه جلا شو او د انسان د بدن د کارخونې د مطالعې پربنسټ استوار شو؟ څرنګه پوهانو په ناروغیو کې د "آسماني برجونو" دخالت، باطل کړ؟ څرنګه د طب علم د خپلو پښو لاندې ته متوجه شو او د ناروغانو د ښه کیدو لپاره یې طبیعت ته مخه کړه او  هغه یې کشف کړ؟ د طبیعت کشف څه ګټه درلوده؟
د دې پوښتنو ځوابول ډیر وخت او مجال غواړي. پدې لنډه کې هڅه کیږي د دې  ټکي ترڅنګ چې د نوي طب پر مخکښانو څه تیر شوي دي، دې هرې پوښتنې ته لنډ ځواب هم ورکړل شي.

*

## لیوناردو داوینچي (۱۵۱۹-۱۴۵۲)

داوینچي باید د هغه کسانو په ډله کې ونوموو چې د انسان د ناروغۍ د علت د کشف لپاره یې پخپله انسان ته مخه وکړه. پدې توګه یې ارسطو عملاً څنډې ته کړ او که لا په ښه ډول ووایو، ارسطویي چلند ته یې د جګړې اعلام وکړ او غږ یې پورته کړ چې علم باید پر مشاهدې او تجربې ډډه وکړي.
ویلی شو چې هغه د دې طرز فکر د مخکښانو څخه و چې هر څه چې بې له تجربې او مشاهدې لاس ته راشي، علمي ندی نو پر دې بنسټ، د اطمینان او منلو وړ هم ندی.
هغه ونه غوښتل د خپل نظر د اثبات لپاره له **ارسطو** نه مرسته وغواړي. پر دې باور و چې هر څوک چې د مشرانو پر وینا استناد کوي، په حقیقت کې د خپل عقل پرځای، د خپلې حافظې نه استفاده کوي.
**پییر روسو** د **داوینچي** د کارونو په هکله لیکي:
هغه واقعي علم هاغه علم ګڼه چې د ازمایښت په نتیجه کې لاس ته راغلی وي. هغه د دویم پاپ، **ژول**،  لخوا اجازه درلوده چې د بنیادم جنازه تشریح کړي، خو یوازې تر  هغه حده چې د پاپ په اجازه لیک کې یې ذکر شوی و. خو  هغه به د دې حد نه هم تیرې کوه او یوازې د خپل هنري اړتیا– د انسان د بدن د هډوکو په جوړښت کې څیرتیا – لپاره یې کار نه کوه. هغه د بدن د غړیو په آزادانه تشریح او مطالعې بوخت شو. د زړه د حرکتونو په هکله یې مطالعه وکړه. پداسې حال کې چې د اجسادو د عفونت  مخنیوی یې کوه، دا یې کشف کړ چې د انسان د پښو د ساق هډوکي او د اس شاتینې پښې څرنګه عمل کوي. د انسان د مفصلونو د کار طرز یې هم کشف کړ.

*

نباید وانګیرو چې خرافه پاله طبیبان یو ناڅاپي له منځه ولاړل او نور داسي څوک نه و چې د امراضو علت په برجونو او ستورو کې ولټوي. **ژان فرنل**، داسي کس و چې طب یې یوځل بیا ماوراء الطبیعه لوري ته سوق کړ او ویې لیکل: د مرض پیل هغه وخت هغه ندی چې د هغه لومړني آثار یې راپیدا کیږي. بلکې باید حساب وکړو چې هغه مهال، سپوږمۍ کوم برج ته دننه شوی ده!

پداسي حال کې چې **فرنل** او د هغه په شان کسان په بې وسۍ د علم په وړاندې اغزي ګرځیدل، نوي طب د تکامل لاره وهله. **پاره** د ټپ په ترلو کې ځینې برياوې لاس ته راوړې او د وینې تویدنې د مخنیوي لپاره د تودې وسپنې او خوټیدلي غوړو سره د سوځونې د زاړه او پخواني چلند پر ځای، د لومړي ځل لپاره د ټپ ترلو لپاره بنداژ نه کار واخیست.

*

د علم ګام په ګام پرمختګ، "**اسکولاستیک**" فکري ډول متزلزل کړ: د پخوانیو کسانو وینا او لیکنې یې بې اعتباره کړې. خلکو ته یې زده کړ چې هر څه چې سپیڅلي کتاب یې وایي او کلیسا یې صحه ږدي، نشي کولی سوچه او نه بدلیدونکی حقیقت وي. د طب علم پرمختګ او انساني تشریح، د کلیسا موټی خلاص کړ او **جالینوسي** طب او ارسطویي افکار یې رسوا کړل.

نو ځکه باید ګوته په غاښ نه شو چې ولې کلیسا ستر طبیب **میشل سروه** د ملحد په نوم په لمبو کې وسوځوه. دی پخپل کتاب "د نصرانیت میراث" کې لیکلي و چې وینه د سږو څخه تیریږي او هلته د هغې هوا په واسطه چې موږ یې تنفس کوو، تصفیه کیږي.

همدې کشف د کلیسا د غوسي او قهر اور بل کړ او دا ستر پوه د اور په لمبو کې ژوندی کباب او وسوځول شو.

**وزال** هم د جالینوسي طب او ارسطویي تفکر د مانۍ په پرزولو کې ستره ونډه درلوده. هغه روښاندی طبیب و چې سحر او طلسم او سپیڅلي کتاب او آسماني برجونو ته د توسل پرځای د انسان د بدن د کارخونې په تشریح او مطالعې بوخت شو.

**پییر روسو** لیکي: هغه سربیره پدې چې د بدن هډوکي، مفصلونه او عضلې یې په دقت تشریح او طبقه بندي کړې، د انسان بدن یې د یوې بشپړې میکانیکي دستګاه په توګه وګڼه چې هیڅ یو غړی یې نشي کولی په جلا توګه خپل کار ته ادامه ورکړي. هغه د بدن عضلې او هډوکي د ژوند په عادي حالت کې وښودلې.

**وزال** یې یوه ورځ د یو نجیبزي د کټ سر ته احضار کړ. نجیبزی په یوې تن په تن جګړه کې ټپي او مرګ ته یې څه پاتې نه و. څو شیبې وروسته د ناروغ خپلوان هک پک پاتې شول کله چې یې ولیدل چې دې پوه او تشریحګر عالم، د ناروغ سینه پرانیستې او د هغه د زړه تماشا کوي.

ایا **وزال** د پوهې په مینې هغه بدبخت وژلی و؟ د هغه په څیر له شوره ډک انسان څخه دا کار هومره لیرې هم نه و. په هر حال ((د عقایدو تفتیش محکمې))، دا عالم په اعدام محکوم کړ.

*

**ویلیام هاروي**

د جالینوسي طب د نظریې سره سم، زړه د روح مرکز او ځای و. هیڅ چا هم اعتراض ندرلود. د **جالینوس** وینا دربست د کلیسا د منلو وړ او پدې توګه د پوهانو د منلو وړ هم وه. د دې ترڅنګ، د جالینوس نظر دا و چې په ځیګر کې هم وینه وجود لري. خواړه له دننه کیدو وروسته، په معده کې هضمیږي، وروسته کولمې خواړه ځیګر ته وړي. په ځیګر کې خواړه په وینې تبدیل او په بدن کې بهیږي.

دا ناسمه او غیرعلمي نظریه، د حدس او ګمان جوړه وه. هاروي د خپل نظر د تشریح سره، دا ناسم نظر راوپرځوه. هغه وویل: د کتاب د پاڼو منځ کې نشو کولی د غړو تشریح او دندې زده کړو. د انسان د بدن د تشریح یوازیني لاره، د کالبد څیرونه (کالبد شکافي) او تجربه ده، او پدې فن کې د پرمختګ لاره هم د فیلسوفانو خبره نده، بلکې تجربه او مشاهده ده.

د **هاروي** عمده کار، د وینې د ګرځیدو کشف دی. هغه له ځانه سره داسي استدلال کوو:

فرض وکړو چې زړه هره دقیقه، ۷۳ ځله ودرزیږي، او هغه حفره چې وینه ترې صادریږي، یوازې شپیته ګرامه وینه ولري. نو په دې صورت کې، د انسان زړه شاوخوا ۲۵۰ کیلوګرامه وینه په یو ساعت کې بدن ته دننه کړې ده. دومره وینه چیرته ځي؟

همدا وو چي خپله عمده فرضيه يې وړاندې کړه او ويې ويل: دا مساله په بدن کې د وينې د دايمي بهير له لارې حليږي. لږ څه وروسته، استدلال او ازمايښت، د هاروي د فرضيې سموالی ثابت کړ.
همدې وخت کې ړوندزړي طبيبان چې نه يې غوښتل ووينې او زغملی نه شو چې ووينې د جالينوس د واک مانۍ رانړيږي؛ راپاڅېدل او د هاروي او د هغه په شان د نورو کسانو د کار مانع وګرځېدل.
پدې دوره کې د طبابت د عنوان لاس ته راوړل هم ستونزمن کار نه و. هر چا به چې مخصوصې جامې او د شپې خولۍ اغوستې او ماته ګوډه لاتيني ژبه به غړيده، ځان يې طبيب باله.
**موليير** د دې بې سوادو او بيرحمو طبيبانو په هکله جالبه وينا لري. هغه وايي: د هغوی طبي نسخې او دستورونه د تنقيه، فصد او بيا وروسته له مسهل نه وړاندې نه تللې. نيشتر او کرچک غوړو ته يې هم ډېر ارزښت ورکوه.

*

هغه څه چې مو ولوستل، د نوې پوهې او پخواني علومو ترمنځ د جګړې ناقصه صحنه وه: هر اړخيزه جګړه، د فکري ډولونو جګړه، د علمي حقايقو جګړه، د ښه ژوند لپاره جګړه، د ژوند د پيژندلو او د هغه د بدلون جګړه.

## کليسا، د نوې ستور پيژندنې پوهې په وړاندې خنډ

اوس مو چې د طب پوهنې اوږده او بريالۍ جګړه ولوسته او هغه خنډونه مو وپيژندل چې کليسا به د انساني او اخلاقي اصولو د ساتنې په نوم د طب په وړاندې درول، نو اوس به نجوم او هغه جګړه چې ستورپيژندونکو او رياضي پوهانو د پخوانيو علومو (توراتي او بطليموسي هيات) او د هغه ملاتړي کليسا په ضد پيل کړې ده او هغه سربښندنې چې په دې لاره کې ډالۍ شوي دي، تر ارزونې لاندې ونيسو.
رياضيات او نجوم د شپاړسمې پيړۍ د دويمې نيمايي نه نوی ژوند پيلوي او په هر ځای کې «اسکولاستيک» او کليسا او سپيڅلي کتاب ته د جګړې اعلام کوي. بايد زياته کړو چې «اسکولاستيک» او کليسا تل له عيني او حسي تماس نه په تيښته وو. له همدې کبله يې په سر تمبه توب هڅه کوله چې علم له طبيعت او د هغه له قوانينو نه ليرې وساتي. په دې پوهيدل چې طبيعت ته نژديوالی او د عينياتو د مطالعې او ازمايښتونو رواجوال به د هغوی د ايده اليزم د ماڼۍ له نسکوريدو سره برابر وي.
په هر اندازه چې د زوړپالنې او خرافاتو په وړاندې عصيان لاقوت موند، دا دواړه _ اسکولاستيک او کليسا_ لا پسې يو بل ته نژدې کيدل. کله چې د نوي نجوم پوهې، د کليسا خيالي ماڼۍ او جبارانه قدرت وګواښه، دا ماتې خوړلې فلسفه، د مخالفانو د سوځولو او د خپل ځپښانده قدرت د ساتلو لپاره، د لرګيو د لويو ډېرۍ د مرستې غوښتنې په لټه کې شوه.
لهستاني **کوپرنيک** په کال ۱۵۴۳ کې په زغرده اعلان وکړ: دا ځمکه چې پخوا د آسمانونو د بې حرکته مرکز په نوم پيژندل کيده، د دې ترځنګ چې خپل ګردچاپيره څرخيږي، د لمر شاوخوا هم څرخيږي. پداسې حال کې چې د تورات له نظره دا يوازې لمر دی چې د ځمکې شاوخوا څرخيږي. تورات کې په ښکاره ډول لولو چې د **«ززوئه»** په دستور، لمر له حرکت نه ودريدو تر څو هغه خپله بريا پای ته ورسوي.
آيا ممکنه ده چې سپيڅلی کتاب دې اشتباه ووايي او خطا دې وکړي؟
**کوپرنيک** پخپل ټول ژوند کې د دې پوښتنې له طرح کولو يا ځواب ورکولو نه ډډه کوله او ژوند يې کليسا سره په سولې او پخلاينې کې پای ته ورسيد. خو هغه ساعت شميرې بمب چې **کوپرنيک** د کليسا مخې ته ايښودلی و، وروسته وچاوديد او کليسا ته يې ډېر خطرونه جوړ کړل.
**پيير روسو** ليکي، وروسته له هغه چې د **کوپرنيک** د مرګ نه پنځه ويشت کاله ووتل، يو ناڅاپي د ګوټ ګوټ نه د اعتراض فريادونه راپورته شول او د **بطليموس** د پلويانو د لعنت او نفرين غږ د **کوپرنيک** د پلويانو او ستايونکو له غږ سره ګډ شو.
**جوردانو برانو** د **کوپرنيک** د فرضيې نه د دفاع او د افسون ګرۍ په تور د انکيزيسيون (په کليسا پورې د عقايدو د تفتيش اړوند سازمان) د تورو تمبو شا ته د اته کالو د تيريدو وروسته د اور په لمبو کې ژوندي وسوځول شو. هغه د **ګاليله** ملګری و.
د دې پيښې نه دوه زره کاله وړاندې، **فيثاغورث** او د هغه ياران د ځمکې پر ګرځيدنې پوه شوي وو، خو پداسې دنيا کې چې د ځمکې مرکزيت او سکون، د توانګرانو او زورمندانو د حکومت بنسټ و، د فيثاغورث او يارانو نظريه له ياده ووتله، او بطليموسي هيأت او د **ارسطو** احکام او د ساکنې ځمکې په شاوخوا د بلورينو غږ جوړونکو افلاکو ګردش، په سپيڅلتيا بدله شوه.
د زياتونې وړ ده چې د پخواني نجوم په باور، هر ستورې د هغه بشقاب په بڼه دی چې د آسمان پر بلورين سقف پورې نښتی دی او هر څه د ځمکې ګردچاپيره په ګرځيدو کې دي او ځمکه ثابته او د عالم مرکز ده.

کلیسا د دې نظریې نه په عامیانه تعبیر سره نتیجه واخیسته چې د پاپ مانۍ هم د ځمکې مرکز دی او پخپله پاپ د ځمکنیانو ساتونکی دی.
ځمکه باید د جهان مرکز او ساکنه وي ، چې د پاپ مانۍ د ځمکې مرکز او ثابته وانګیرل شي. په پیړیو ویل شوي چې پر بلورینو ګنبدونو نقش شوي ستوري، د ځمکې د خدمت لپاره د هغې په شاوخوا ګردش کوي، او په ځمکې باندې مالکان داسې مرکز ګرځېدلي دی چې ټول رعایا یې باید په شاوخوا وګرځي. که بلوري افلاک یو له بل نه وشیندل شي او ځمکه هم د بې شمیره ستورو په شان یو ګرځېدونکې او بې قراره ستورې شي ، څه معلوم چې "هغه بزګران چې په ب پټیو کې یې ساه وځي" د خپل فقر او رنځ په حکمت کې شک ونکړي؟ دا هغه بې پایه ویره ده چې کلیسا یې د سپیڅلي ارسطو د احکامو د نقض کیدو څخه لري.
همدا و چې د پخوانیو علومو او د نوي نجوم د پوهې پر پوله ستره او خونړې جګړه ونښتله. وړاندې لدې چې د نوي نجوم د مخکښانو سرګذشت ته اشاره وشي، بده به نه وي چې په اروپا کې د «مذهبي ریفورم» په اړه هم یوه دوه خبرې وشي.
**لوتر** په شپاړسمې پیړۍ کې د **کاتولیک** کلیسا په مذهب کې د سمون غوښتونکی شو او پدې توګه د یوې سترې مذهبي تفرقې بنسټ کېښودل شو. سمون غوښتونکې فرقه، **پرتستان** ونومول شوه.
د **کاتولیک** په خلاف **پرتستان** مذهب؛ "فرد"، د پاپ او کلیسا په اختیار کې لاس او پښې تړلی نه کېښوده.
د «لغت نامې» خاوند، علي اکبر دهخدا، داسې لیکي: "د کاتولیک کلیسا ځان د هغه حقیقت یوازینې حافظ او قاضي ګڼه چې په سپیڅلي کتاب کې لیکل شوی او د سنت له لارې حفظ شوی او د پاپانو عالي شورا لخوا تایید شوی دی. د دې په خلاف، پرتستانانو د ایمان مقیاس سپیڅلی کتاب ګڼه خو "فردي عقل" یې معتبر او د هغه مفسر ګڼه."
(د پرتستان تر مادې لاندې)
د **روم کلیسا** چې متوجه کیږي چې سمون (رفورم)، د مذهب په قلمرو کې د فکري آزادۍ د پراختیا په لور ځي، هڅې پیل کوي؛ آن دا چې په اولسمه پیړۍ کې د **دیارلسم لویي** وزیر، **ریشیلیو**، پریکړه کوي چې د پرتستانانو مصونیت باطل کړي او همداسې هم کوي.
لږه موده وروسته هم، یو فرمان صادریږي چې په ترڅ کې یې باید د پرتستانانو ټول معابد ړنګ کړای شي.
د هغوی مذهب او د عبادت رسم دې ممنوع شي. مدرسې یې وتړل شي او ...
هغه وزیران چې د پرتستان مذهب د بطلان د اعلام او تصویب نه ډډه کوي، تبعید کیږي او مخالفان سختې شکنجې ویني او د بردو په شان په بیړیو کې پارو وهلو باندې محکومیږي.
«ټول پوهیږي چې دا دستورات په څومره تاوتریخوالي او سختۍ سره پلي کیږي او ټول پوهیږي چې دا منشور فرانسې ته کومې ناخوالې وړیه برخه کوي. خو عجیبه دا ده چې دا اقدامات د میرمن **سویه** او **لافانتین** او **بروئر** په شان پیژندل شوو کسانو لخوا هم تایید کیږي.» ۵
نوې پوهې په پیړیو د مشاهدې او ازمایښت په مرسته جګړه وکړه تر دې چې د زړو سنتونو د استبداد یوغ لیرې واچوي. لومړی متجددو هنرمندانو پر ارسطو سخت ګوزارونه وکړل او د هغه الګو شوې شخصیت یې ونړو. وروسته **وزال** او **سروه**، جالینوسي طب یو موټی خرافات وباله.بیا نو **کوپرنیک** ته وار ورسید او هغه په احتیاط او نظم سره، د بطلیموس نجومي احکام له جړې راوویستل.
دې حادثې او بهیرونو، وچ مذهبي انضباط او زوړ اخلاق متزلزل کړل. په دې موده کې چې "مذهبي سمون" (مذهبي رفورم) کاتولیک کلیسا له نوي ګواښونو سره مخامخ کړې وه، د کلیسا جنده لرونکې په لټه شول چې په وارخطایۍ د سپیڅلي کتاب مرستې ته ملا وتړي او مذهب د نوې پوهې له منګولو نه وژغوري.
د دین د مشرانو ټولنه په چټکۍجوړه شوه او ټول "ضاله او خطرناک" کتابونه یې له منځه یوړل. علمي پلټنه کبیره ګناه ګڼل کیده. د دې لپاره چې د بې دینۍ او مذهبي چارو پر وړاندې د بې پروایۍ د څپاند سیل مخې ته خنډ راولاړ کړي، هر چیرې یې لرګي ډیرۍ کړي ول چې «ملحدان او کافران» په کې وسوځوي.
د تجدد د پلویانو له منځه وړلو سره د نوې پوهې د تکامل بهیر په لنډمهاله ډول ودرید خو د کلیسا بې ثمره هڅو کوم ځای ونه نیوه. **پییر روسو** لیکي: "حقیقت، به په زندان او د اور په لمبو خندیده."
همدا چې د علمي مسائلو په هکله بحث منع شو، څیړونکو د طبیعت په مشاهدې لاس پورې کړ. پداسې حال کې چې کلیسا علمي بحث، استدلال او تعقل محکوم کړي و، د پوهې اهل لاس تر زنې کښینه نستل، او د طبیعت په حیرانونکو پدیدو کې په څیړونو بوخت شول. د جهان د جوړښت او د ستورو په شمیرو کې په څیړنې او د هغوی د جدولونو په تنظیمولو بوخت شول او کلیسا د دې لټنو او پلټنو د پایلو نه بې خبره، د هغوی په وړاندې کوم خنډ رامنځته نه کړ. پدې توګه د نویو او پریکونو عقایدو څپاند سیل رهې شو او د کلیسایي خرافاتو جرړې یې راوویستلې. د نویو عقایدو دې څپاند سیل، د ریاضي د سترو متفکرانو د مغزو نه سرچینه اخیستې وه.

## ځمکه او اسمان د يو موټي خرافاتو په منګولو کې

د ارسطو افکارو پر اروپا دولس پيړۍ حکومت وکړ. دا دولس پيړۍ د بشري ژوندون د يو تر ټولو تورتم دورانونو څخه دي؛ هغه دوران چې ورته د تورتم پيړۍ وايو. پدې دوران کې کيمياګري د کيميا او طالع ليدني د نجوم ځای ونيو.

د منځنيو پيړيو د دې تورې دورې عالمانو، کشيشانو او فيلسوفانو به د خپلو ذهني قالبي نتيجو ته د رسيدو لپاره هڅې کولې. غوښتل يې هر هغه څه چې په دنيا کې تر سترګو کيږي، د خپل ذهن د حاضر او آماده محتوی سره يې وفق ورکړي. علمي واقعيات او مسلمات يې يوازې هغه وخت منل چې د هغوی ذهني قالب کې به يې ځای نيولی شو.

البته دا ذهني قالب هم د پخوانيو کسانو او د سپيڅلي کتاب يو جوړ شوی شئی و. پداسي حال کې چې نوې پوهه او نوي پوهانو په مخالف لور کې روان وو او د خپل قياس او سنجولو بنسټ يې پر هغه کارونو کښوده چې د ازمايښت او مشاهدې سيده نتيجه وه.

نبايد هيره کړو چې ټل همداسې وه چې متحجران او زاړه پال چارو ته د خپلې نظريې سره مطابقت ورکړي، پداسي حال کې چې نوي پال (متجددان) او پوهان خپله نظريه د بهرني چارو د مشاهدې نه لاس ته راوړي.

د منځنۍ پيړيو په هغه تور عصر کې هم همداسې وو. هغوی به دنيا د خپل ځان له مخې تشريح او توجيه کوله، پداسې صورت کې چې د نوې پوهې قصد دا وو چې انسان له دنيا له مخې توجيه کړي.

د پخوانيو علومو او نوې پوهې جګړه په همداسې پولې کې وه. او تر هغه وخته چې د دې پولې وجود احساس کيږي، دا جګړه به ادامه مومي.

هغه مهال چې د **ګاليلي** دوربين اسمان سوری کوه او د لمر او ستورو واقعيت يې ښکاره کوه، کليسا په خپلو تعليماتو کې خلکو ته داسې ښودنه کوله:

« په کومه ورځ چې څښتن تعالي «اموريان» بني اسراييل ته تسليم کړل، هغه وخت **يوشع** د بني اسراييل په حضور کې خدای ته تکلم وکړ او وې ويل: اې لمره ته «جبعون» کې ودريږه او ته ای سپوږمۍپه «ايلون» وادي کې. نو لمر ودريد او سپوږمۍ متوقف شوه، تر څو چې قوم له خپلو دښمنانو نه غچ واخيست. آيا دا په «ياشر» کتاب کې مکتوب ندي چې لمر د اسمان منځ کې ودريد او تقريباً روغه ورځ يې د پريوتلو لپاره بيړه ونکړه.»۶

نو ځکه، کله چې د نوي نجوم پوهې په غوڅه او ګستاخۍ سره خلکو ته ورزده کړه چې لمر د سپوږمۍ په نسبت اصولاً داسې حرکت نلري چې ودريږي او سپوږمۍ پرته له دمې په حرکت ده او که يوه شيبه هم ودريږي هر څه به تار په تار شي، کليسا ناره پورته کړه او متجدد منجمان يې ملحد وبلل او د انسان د غوښې بوی يې اسمان ته پورته کړ.

کليسا معتقده وه چې د هغه چارو ارزونه او مطالعه ازاده ده، چې په اړه يې سپيڅلي کتاب کې کومه خبره نه وي شوې او کليسا لا له وړاندې په هغه کې د نظر اظهار نه وي کړی. متفکران او مذهبي ايمان ته ژمن خلک کولی شي خپله پوهه او اند د حقايقو د درک کولو په موخه په کار واچوي خو کله چې د ((مطلق قهري حقايقو)) په درشل پښه ږدي، بايد بې له ځنډه د درناوي سر راټيټ کړي او د کليسا تعبير او تفسير ومني.

هغه روښان مغزه منجمانو چې پښه يې د اسکولاستيک او کليسايي افکارو له حدودو نه بهر کيښوده او مسلم حقايق يې د اسمان له زړه نه راوويستل، له شکنجې سره مخ شول.

د پاريس پوهنتون استاد پوهاند **البرت بابر** ليکي: د عقايدو د تفتيش محکمه (روم کليسا پورې اړونده) د تورنو څخه د اقرار اخيستنې لپاره په مرګوني شکنجې لاس پورې کوه. هغوی به يې په سيمي اغزنو تختو څملول. يا هغوی به يې له ډيرې لوړې ارتفاع ځمکې ته راغورځول چې له منځه ولاړ شي... ان دا چې ماشومان به يې د خپل مور او پلار په ضد شهادت ورکولو ته مجبورول.۷

دې سريزې سره ويلی شو چې ګاليله او د هغه په شان نور کسان، څومره زړور او سرښندونکي ول او څومره په مسلمو علمي حقايقو زړه بايللي ول چې لاس تر زنې نه شول او په جګړې بوخت شول.

نوې پوهه به هيڅکله د خپل پلرونو وياړلي نومونه هير نکړي.

اوس ځو د دې پلرونو د يو څو تنو سرګذشت ته، هغه پلرونه چې نوې پوهه د هغوی د فکر او شجاعت زيږنده ده.

*

## ټيکو براهه

هغه د دنمارک له اشرافزيبانو څخه و. زوکړه يې په ۱۵۴۶ کې شوې وه. کله چې هغه د نجوم پوهې ته مخه کړه، کورنۍ يې هغه ورټه؛ د دې لپاره چې اشراف طبقې، پداسي «بې ګټې پوهې» بوختيدل دخپل شان سپکاوی ګڼو. وروسته د **براهه** علمي شهرت اوچت ولاړ. هغه د خپلې بيلګه ايزې رصدخونې له شا نه د اسمان او بې شميره ستورو په ننداري بوخت شو. هغه د پراخو څيړنو په پايله کې وتوانيد د خپل محل

جغرافيايي موقعيت وومومي. بيا د ستورو د ارتفاع په تعيينولو، د سپوږمی په حرکت کې په مطالې او د ستورو د ليک لارې په تعيينولو بوخت شو او ارزښتناکه علمي اکتشافاتو ته ورسيد.

**کپلر**

هغه د **تيکو** زده کونکي و. د هغه تر ټولو مهم کار د نجوم د قوانينو کشف و.

**پيير روسو** د **کپلر** قوانين پدې شان بيانوي: «لومړی قانون موږ ته رازده کوي چې هره سياره د لمر په دور بيضوي مزل وهي. دويم قانون ثابتوي هر څومره چې سياره پدې مسير لمر ته نژدې وي، په هماغه اندازه يې حرکت چټک دی او بالاخره د دريم قانون په مرسته کولی شو د دوران د مودې په لړلو سره، له لمر څخه د هغې واټن وټاکو.»

د ستورپيژندني پوهې لپاره د دې قوانينو کشف يوه ستره بريا وه. مثلاً همدا قانون د نيوتن لپاره د بريا کلې وګرځيده او د دې قانون سره د مجهزتوب له لارې هغه وکړای شول د عمومي جاذبې قوانين کشف کړي او د دې قوانينو له لارې دی چې معاصر منجمان کولی شي د سياراتو د حرکاتو وړاندکتنه (پيش بيني) وکړي او د هغوی اسماني مسير وکاږي.

**ګاليله (۱۵۶۴-۱۶۴۲)**

هغه ايتاليايي و.

**پيير روسو** ليکي: يوه ورځ کله چې يې د کليسا په يوې مذهبي دستوره کې ګډون کړی و، ويې ليدل چې په سر يې يو څهل څراغ د نوسان په حال کې دی. دا موضوع ډيره عادي وه. خو ستر متفکران دا ځانګړتيا لري چې هغوی ته هيڅ مطلب ابتذه او نامرئي نه برييښي او د ډيرو ساده مسايلو او پيښو نه ستر درسونه اخلي. څومره ډير به وي هغه کسان چې حس کړي به يې وي چې بدن يې په اوبو کې سپيکيږي او بره راخيژي، خو يوازې يو «ارشميدس» پيدا کيږي چې له هغه نه، د «مايعاتو تعادل» د اصولو نتيجه واخلي او يوازې يو «نيوتن» کولی شي د هغې له مخې د «اجسامو د سقوط» قانون لاس ته راوړي.

د کليسا د څهل څراغ تموج او نوسان د ځوان محصل لپاره د افکارو او تخيلاتو د برکت نه ډکه سرچينه وه. خو دې افکارو له مودو راپديخوا مخکې له دې چې غوټۍ وغوړوي، ادامه درلوده او يوازې د دې دانشمند د ژوند په وروستي کلنو کې وو چې د هغه ميوې لاس ته راغلې، هغه ميوې چې نن د ګاليله د ترټولو ځلانده وياړلو عناوينو څخه ګڼل کيږي.

ګاليله وروسته لدې چې ثابت مقام يې لاس ته راوړ په لټه کې شو چې د ارسطو د نفوذ پرضد په کلکه وجنګيږي او ثابت کړي چې **کوپرنيک** سره هيڅ ډول اختلاف نلري. څرګنده ده چې د هغه اوريدونکو شپيلي ووهل او شور او زوږ يې جوړ کړ... ځکه چې د هغه مهال د خلکو متقاعد کول ګران کار وو. کافي نه وه چې هغوی ته ووايئ چې فلان او فلان شئی د کوپرنيک د دستګاه اثر ثابتوي او تاسې کولی شئ دا اثار په خپلو سترګو ووينئ. مهم مطلب دا و چې د هرې چارې دلايل دې بايد د سپيڅلي کتاب نه استخراج شوي وي. که ګاليله سمه خبره کوي نو دليل يې ولې له سپيڅلي کتاب څخه نه راوړي؟

د هغه عصر خلکو به همداسې ويل. تمه يې درلوده چې د سپيڅلي کتاب د وينا خلاف دې کوم حقيقت ونه ويل شي.

اوس نو بايد پخپله ووايو، کله چې د ګاليله دوربين اسمان څيری کړ او د سپيڅلي کتاب د وينا خلاف يې څرګند حقايق راوويستل، کليسا به څومره عصباني شوي وي.

څنګه چې ګاليله د کليسا چارواکو سره دوستي او اشنايي درلوده، د مودو لپاره تر تعقيب لاندې رانغی. خو بالاخره د ګاليله جسارت د هغوی د زغم له بريد نه واوخت، او هغه يې د محاکمې او د عقايدو تفتيش د ميز ښنې ته راوکاږو.

له يوې دورې څيرنې او ازمايښت نه وروسته، **ګاليله**، پياوړی او غښتلی دوربين اختراع کړ او د بې سر او بې پايه اسمان په ننداری او سياحت بوخت شو. هغه په پای کې په يو عجيب او بې ساري کشف بريالی شو.

سپوږمی يې وليده چې د **ارسطو** د نظر په خلاف، چې هغه يې صافه او صيقلي ليده، په بشپړه توګه په غرونو او درو پوښلې شوی او د لمر رڼا د هغې راوتلې ټکي لاپسې راڅرګند کړي دي.

ګاليله همدارګز، ډير نامرئي ستوري کشف کړل او ...

بالاخره، ګاليله د خپلو علمي اکتشافاتو او تفکراتو نتيجه خپره کړه. د پوهې اهل او واقع ليدونکي او متجدد خلک د هغې په ليدلو خوښ شول، خو د «اسکولاستيکو اصحابو»، خيال اوبدونکي او متحجران او ايده اليستان په غوسه شول او غابښ او منګولې يې تيرې کړې. ځکه چې هغوی غيرمذهبي استدلال ته په هيڅ ډول درناوی نلرو او ارزښت يې ورته نه ورکاوه. هغوی يوازې په يو شئي قانع او خوښيدل: د سپيڅلي کتاب آيې له تفسير او تعبير سره.

د روم کلیسا وروسته له هغه چې **ګالیله** د **بطلیموس** د هیأت په ضد خپل غوښ تعرض اعلام او له **کوپرنیک** نه یې ملاتړ وکړ، هغه احضار کړ.
یوازې د هغه لوړ علمي مقام او د کلیسا په دربار کې د هغه د دوستانو موثر نفوذ وو چې له هغه سره تر یو بریده مودبانه چلند وشو.
د ادعانامې له تنظیم نه وروسته، ګالیله یې ناچاره کړ چې لاندې توبه لیک لاسلیک کړي:
**«زه ـ ګالیله ـ د ژوند په اویایم کال کې ستاسې حضراتو په وړاندې په ګونډو کیږم او په داسې حال کې چې سپیڅلی کتاب مې د سترګو مخ ته دی او پخپلو لاسونو هغه لمس کوم، توبه وباسم، او د ځمکې د حرکت له خبرې څخه چې له اشتباه ډکه او له حقیقت څخه تشه ده؛ انکار کوم او هغه منفوره او مطروده ګڼم.»**
د ګالیلې د محاکمې ګزارش یې له انظارو نه پټ کړ چې د کلیسا پرتم له منځه ولاړ نشي او د مذهبي چارواکو له کړی نه بهر، عفوه او اغماض خوله په خوله نشي. ځکه «واتیکان» پر افکارو د واکمنی او د ویرې او وحشت له ایجادولو پرته بله دنده ندرلوده، او نشي کولی چې له هغه شهرت نه لاس په سر شي چې په بې رحمی او علم سره د مخالفت له لارې یې لاس ته راوړی وو.
ګالیله په اتیا کلنی کې د **دینامیک علم** بنسټ کیښود او ویې ښودله چې څرنګه ځواک (نیرو) حرکت رامنځ ته کوي.
هغه له ډیرو ازمایښتونو وروسته دې نتیجې ته ورسید چې ټول اجسام په متساوي سرعت سقوط کوي. هغه د مردکو د حرکت او تعاقب مفهوم ته هم پام وکړ او ثابته یې کړه چې مردکی پداسې حال کې چې د باروت د متحرک ځواک په مټ په مخ ځي، د ثقل ځواک په نتیجه کې د ځمکې لور ته جذبیږي.
ګالیله د ۱۶۴۲ کال د جنورې په اتمه له نړی سترګې پټې کړې او نړی یې د خپلې ټولې پراختیا سره هغو ته پرېښوده چې تنګې سترګې لرې او په هیڅ بیه حاضر ندې د پوزې د څوکې نه لیرې افق ته نظر واچوي.

*

د کلیسا لخوا د ګالیله په شان کسانو محکومیت هیڅکله د دې مانع شوی ندی چې دنیا دې له حرکت نه لاس پر سر شي. کلیسایي اسکولاستیکانو د هر ناورین سره چې منځ ته یې راوړه، د خپلې رسوایې ډهل یې لااوچت درنګوه.
ګالیله او دهغه په شان کسان مړه شول، د کلیسا لخوا محکوم شول خو تاریخ تل څرګندوي چې:
«هغه کسان چې پر خپلو ولو د ازاد فکری کجاوه وړي، که څه هم چې له اوږو یې وینې څاڅي، خو لاتراوسه له پښو ندي غورځیدلي.» ۸

## د شعور، فکر او ژبې په اړه لنډې خبرې

کار د انسان د تکامل او د هغه د شعور د ظهور او تکامل اساسي عامل دی. په معروف قول «کار د انسان خالق دی». کار انسان د هغه د وحشي او ځنګلي اجدادو څخه جلا کړ. کار انسان ته خواړه، جامې او پناهځای ورکړ او هغه یې نه یوازی د طبیعي ځواکونو څخه خوندي کړ، بلکې هغه ته یې پر طبیعي ځواکونو د تسلط پیدا کولو وس هم ورکړ. د کار په وسیله، انسان ځان برتر او برتر کړ او د ځمکې کُره یې بدله کړه. کار د انسان ترټولو ستره شتمني ده او د هغه د ژوند او تکامل لازمه ګڼل کیږي.
د کار تکامل او سمون، د شعور د تکامل سره یو ځای مخې ته تللي دی. انسان د معیشت د امرار د حاصلولو په بهیر کې د ګڼو شیانو سره مخ کیده او د هغوی صفات به یې یو په یو زده او له یو بل سره به یې پرتله کول او د هغوی ګډه ځانګړنه به یې موندله او پدې توګه به یې ((مفهوم)) جوړوه.
د کار د ابزار جوړول او سمول، د شعور په تکامل کې ستر اهمیت درلود. هغه ابزار به چې له یو کهول نه بل کهول (نسل) ته منتقل کیدل، د هغوی پوهه او تجربه یې هم له ځانه سره درلوده. وروستي کهولونو به د خپلو پلرونو د ابزار جوړولو او په کار اچونې هم پوهیدل او قادر ول د هغوی د کار لړی پسې ونیسي او د کار د ابزارو د سمون او تکامل لپاره هڅه وکړي.
د لومړني انسان شعور اساساً د هغه کار پورې تړلی و. لا ښه به دا وي چې ووایو د هغه شعور او عملي فعالیتونه یو په بل کې پیچل شوي ول. مثلاً، استنباط کولی شو چې انسان وړاندې له هر څه زده کړل چې کوم شی سیده د هغه کار پورې تړلی دی او د هغه اړتیاوې پوره کوي. پدې توګه، د کار پر بنسټ د کار او فکر یووالي، شعور په مخ وزغلوه او تکامل یې ورپه برخه کړ.
ژبه، شمیرلې وینا، د شعور په تکامل کې زښت ارزښت درلود. ژبې چې د کار پر بنسټ له شعور سره یو ځای ظهور وموند، انسان سره یې مرسته وکړه چې د حیواناتو له قلمرو نه بهر شي او د خپل د فکر قوه مخ پر تکامل یوسي.

کار، تل ټولنيز پاتې شوې دی. انسانان له هماغه لومړۍ ورځو نه مجبور ول د طبيعت سترو ځواکونو سره د مقابلې او د ځناورانو د ښکار لپاره سره يوموټې شي. همدا لامل دی چې په لومړني انسانانو کې د ګډ ژوند اړتيا پيدا شوه او همدا شان همدا اړتياوې وې چې هغوی يې مجبور کړل چې يو بل ته هر څنګه چې کيدای يو څه «ووايي». د دې سختې اړتيا لازمه دا وه چې د بيزو نه تکامل موندونکې حنجره دې په داسې غړي بدله شي چې وشي کولی د وينا شميرلي غږونه راوباسي.
ژبه، د افکارو سيده واقعيت دی. افکار کولی شي يوازې او يوازې د کلمو په قالب کې وجود ولري. کله چې موږ له ځان سره فکر کوو يا خپل افکار اوچت اوچت بيانوو يا هغه د کاغذ پر مخ راوړو، افکار تل په کلمو کې موجوديت پيدا کوي. افکار نه يوازې پخپل تشکيل کې د ژبې پوروړي دي بلکې د ژبې په وسيله منتقل او درک کيږي. انسان د کلماتو د تجمع سره او په کلماتو کې دې چې په خپل شعور کې د بهرنۍ عيني نړۍ د واقعيت انعکاس ته ټيکاو ورکوي. او همدا ټيکاو نه يوازې دا چې انسانانو ته وس ورکوي چې د افکارو مبادله وکړي بلکې د يو کهول نه بل کهول ته هم د افکارو د انتقال باعث کيږي. له وينا او ليکنې پرته ، د نسلونو ګران بيه تجربې به هيريدلې او هر کهول به مجبور و د نړۍ د مطالعې بهير له سره ونيسي.
ژبه د افکارو له لارې (د هستۍ نظام) له واقعيت سره تړاو مومي. لدې مخې کله ستونزمنه ده چې د معينې کلمې اړيکه د يو خاص شئي سره ټينګه کړو. په مختلفو ژبو کې او کله ان په يوه ژبه کې، يوه کلمه د ګڼو شيانو د نومولو لپاره کاريږي او يا ګڼې کلمې د يو شئي د نومولو لپاره. دا ټولې قضيې باعث شوي چې ځينې خيال وکړي چې ژبه له واقعيت نه جلا ده. د هغې بې بنسټه فلسفې جړې هم په همدې خيال کې نغښتې دي چې لارويان يې معتقد دي چې ژبه له افکارو نه خپلواکه ده او همدا ډول افکار له واقعيت څخه خپلواکه دي. او معتقد دي کلمې په خپله خوښه د انسانانو له خوا نه کارول کيږي او هيڅ واقعي شئي ته اشاره نه کوي، په بله وينا، کلمې د غږونو مطلق ترکيب دی.
د دې قضيې نه ځينې داسې نتيجه اخلي چې ښکيلاک، زبيښاک، تيری، ديکتاتوري او نور، په مطلق ډول کلمې او پوچ غږونه دي او ادعا کوي که چيرې خلک نورې مرکبې کلمې او غږونه د هغوی پر ځای کيږدي، ټول تضادونه او ټولنيزې ترنګلتياوې او زبيښاک او تيري به ورک شي.
بايد د دې چال او دوکې رسولانو ته ووايو چې نه يوازې کلمې په خپلې خوښې د خلکو لخوا نه کارول کيږي بلکې هغوې يوه معين شئي يا پديدې پورې تړلي دي چې د کار او عملي فعاليتونو په بهير کې پيژندل کيږي. واقعي عيني بهيرونه د کلماتو له بدليدو سره نه بدلون مومي او نه له منځه ځي. مثلاً، ستر پانګه وال د دې لپاره چې د ځمکې د مخ د ملتونو د زبيښاک لپاره عذر وومومي او د خپل سود غوښتنې کرکجن اعمال ښه تعبير کړي، په لسګونو خوله ډکونکي کلمې يې اختراع کړي لکه«ملي پانګه والي»، «بشر دوستانه اقتصاد»، «طبيعي نظام»، «ازاده نړۍ». د هيټلري المان فاشيستانو د دې لپاره چې خپل جنايتونه موجه ښکاره کړي، ځانونه يې«ملي سوسياليستان» بلل.
لکه څنګه چې پوهيږو دا ډول «ښه تعبير»ونې هيڅکله د زبيښاک او ښکيلاک او بيکاري او تضاد او د ديکتاتورانو د جناياتو اثرونه له منځه ندي وړي.
نبايد وانګيرو چې شعور انفعالي حالت لري او يوازې کولی شي « د هستۍ نظام» واقعيت منعکس کړي. شعور د مادې د ژور او اوږد تکامل عالي محصول دی او پخپله په فعال ډول د هغې په تکامل کې دخالت کوي. شعور هيڅکله په انفعالي حالت کې نه پاتې کيږي، بلکې په فعاله توګه نړۍ کې نفوذ کوي او هغه بدلوي او جوړوي. البته منظور دا ندی چې نړۍ دې په رښتيا د بشر د شعور له امله جوړه شوې وي، بلکې غواړو ووايو چې شعور، نړۍ هماغسې چې ده منعکسوي او پر هغې واکمن قوانين په سمه کشفوي، د انسان لپاره به هغه ښه لارښود شي چې د خپل خلاقو کارونو په ترڅ کې، ژوندون بدل او د ژوندانه وړ يې کړي.

**چنګيز مراتي**
د ۴۷ کال وړی


مآخذ:
۱. په اروپا کې د حکمت بهير – دويم ټوك
۲ "د لمر جوړښت" کتاب، ۱۴۷ مخ
۳. په اروپا کې د حکمت بهير
۴. د آزاد فکری تاريخ، ۱۰۷ مخ
۵. د آزاد فکری تاريخ ـ څه پوهيږو؟ـ ټولګه، مخ ۹۴
۶. پخوانی عصر ـ د يوشع بن تون صحيفه ـ ۱۱ باب، ۱۲ او ۱۳ آيتونه
۷. د آزاد فکری تاريخ، ۶۵ مخ
۸. د آزاد فکری تاريخ

نباید وانګیرو چې شعور انفعالي
حالت لري او یوازې کولی شي
« د هستۍ نظام» واقعیت
منعکس کړي. شعور د مادې د
ژور او اوږد تکامل عالي
محصول دی او پخپله په فعال
ډول د هغې په تکامل کې
دخالت کوي.

ميند څېړندويه

۱۳۸۹

"سیند خپروندویه" خپاره کړي دي:

۱. د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه ـ فرهاد ویاړ
۲. دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه ـ مرینه سحر
۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه ـ فرهاد ویاړ
۴. یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام، سپېڅلی
۵. مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه ـ فرهاد ویاړ
۶. مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا. لنین، ژباړه ـ هاشم سهار
۷. لیوهولان- یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه ـ فرهاد ویاړ

خپرېږي:

## ویکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی